AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبر بری

۲۰۲۱/۰۴/۱۸

# نه وه

نـجـلـی ښـکلـي دلـربـا وه زمـا نـه وه
کـه یـي مـهـر کـه یي وفا وه په ما نه وه
زه پـه هسـي بـلا واوښـتـمـه خـلکه
چـي وه هـیلـه د هـرچـا خو د چا نه وه
پـه اسـره اسـره یـي مـا جـفا زغـملـه
مـا وې څـه بـیـا یي وفـا شتـه وفا نه وه
د هـوسـی غـوندي مي خوا نه په رم تلله
دا غـرور دا استـغـنـا وه حـیـا نــه وه
ما وې خیر که په ما خاندي خو چي خاندي
دا قسـم چـي لا راضـي هـم پـه دا نه وه
زه یـي دلـتـه دریـه در خـاوري په سرکړم
څـه فـایـده کـه یـي پـه بـدو رضا نـه وه
خوار شي زما کم عقله زړه څه دي راوکړه
زمـا پـه سـرکي خـود ښـکلـوهـوا نـه وه
چـا وې غـلـی شـه اکـبـره ګـیلي پریږده
دي تـیـارو پـسي رڼـا شتـه، رڼا نه وه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ